AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واسيلي ميتروخين
ترجمه: رحمت آريا
۲۰۲۵/۰۷/۲۲

# کې جي بي په افغانستان کې

## (څلور دېرشمه برخه)

له دې سره سره بيا هم د ا.خ.ډ. ګوند د مرکزي کميټې د دارالانشاء غونډه چې د سپتمبر په څلورمې نېټې د ترړلو دروازو تر شا د کارمل په رياست جوړه شوه ګلابزوی تر کلک انتقاد لاندې ونيول شو او د کورنيو چارو د وزارت له څوکۍ څخه د هغـهٔ د لـېـرې کولو پوښتنـه مطرحه شوه خو د غونډې په اجنداء کې ددهٔ د لـېـرې کولو په هکله د شوروي د سفير تائـيدي نغوتې يا اشارې ته ځای ورنـهٔ کړل شو. د کي.جي.بي او د کورنيو چارو وزارت استازو[1] په هغې غونډې کې چې د سپتمبر په پينځمې نېټې ئـې له تابييف سره درلوده او د شوروي د پوځ سرمشاور او په ګوندي چارو کې د ارشد مشاور کفيل فتييف[2] هم ګډون درلود يو ځل بيا د ګلابزوی د ګوښه کولو پر ضد خبرې وکړې. دا ځل سفير تابييف ددوی د غوښتنـو پر وړاندې له خپل دريځه په شا شو. دوی پرېکړه وکړه چې د ا.خ.ډ.ګوند د مرکزي کميټې يوه مخکې له مخکې جوړه شوې مصوبه دې د کورنيو چارو د وزارت د چارو د ښـهٔ والي له يوهٔ پروګرام سره يو ځای د ا.خ.ډ. ګوند مرکزي کميټې ته ولـېـږل شي او وټيبل شوه چې دې وړانديز ته دې د کورنيو چارو د وزارت د کار له مخکيني سپارل شوي راپور سره پيوند ور نـهٔ کړل شي.

د سپتمبر په ۲۱ نـېـټې په ګلابـزوی د تور نـهٔ ترړلو موضوع يو ځل بيا له تابييف سره مطرح شوه. تابييف په داسې حال کې چې په ګوندي چارو کې ارشد مشاور رومانځوف ئـې خبرې تائـيدولې په دې ټکي ټينګار درلود چې د کورنيو چارو د وزارت او شخصاً د ګلابزوی د کار نيمګړتياوې دې تفتيش شي. تابييف د خپل ټينګار توجيه په دې کې ګڼله چې د شوروي اتحاد د کورنيو چارو وزارت د ګلابزوی پر ضد د شديدو تعزيراتو له وضع کولو سره موافق وو. که څه هم له تابييف سره توافقات شوي ول چې د مرکزي کميټې دارالانشاء به د ګلابزوی پرضد را ونـهٔ پارېـږي خو بيا هم د مرکزي کميټې د مصوبې مسوده چې مرکزي کميټې ته لـېـږل شوې وه تعديل شوه. له دې کبله د کي.جي.بي. او د کورنيو چارو وزارت[3] استازو وړانديز وکړ چې سفير او د پوځـي چارو سر مشاور دې د رومانځوف له لارې له افغانانو وغواړي چې د سپتمبر د مـېاشتې د ۲۵ نـېـټې غونده دې په دې دليل وځنډول شي چې مطروحه موضوع لا نور کار غواړي او له کارمل سره د کي.جي.بي. د استازي د يوې مقدماتي غونډې په لړ کې دې له کارمله وغوښتل شي چې د ګوند د عمومي

[1] ـ هماغه

[2] -V.K. Fateyev

[3] ـ دلته روښانه نـهٔ ده چې شوروي اتحاد د کورنيو چارو وزارت يا د افغانستان د کورنيو چارو وزارت. ـ ژ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

منشي په توګه دې د کي.جي.بي. او د شوروي اتحاد د کورنیو چارو د وزارت د رهبرۍ د غوښتنې پر بنسټ، د وړاندیز شوي مسودې په هکله د مباحثاتو نوښت دې په خپله په لاس کې واخلي. نجیب الله د ګلابزوی د یو شمیر غیر اخلاقي کارونو او هم دا چې د کارمل د محافظینو د کنډک د بولندوی د جذب لپاره ئې د خپل یوۀ خپلوان انتصاب ته نقشه جوړوله شواهد او لاسوندونه وړاندې کړل او په دې سره د ګلابزوی پر وړاندې د کارمل ددښمنې اور څو ځله نور زیات شو.

د کي.جي.بي. استازو او د کي.جي.بي. کابل میشتي څانګې د ببرک او د هغۀ د شریکبانو کارونه سوکه سوکه په افغانستان کې د شوروي اتحاد له ګټو سره په مغایرت کې تشخیصول او نبنې ئې په ګوند او هیواد کې د شوروي ضد مخ په ودې روحیې او د انقلابي لړۍ په سوکه کیدلو کې لیدلې. د کارمل غوره شوي سکتاریستي او تعلقپاله (وابسته منشانه) کړنلاره نوموړي لړۍ ته د یوۀ ځنډونکي خنډ په توګه وکتل شول او شوروي اتحاد ئې دې ټکي ته اړ ایست چې ددښمن پر وړاندې جګړه په یوازې سر پر مخ یوسي. دوی په ګوند او هیواد کې د وضعیت د واقعي حالت په هکله معلومات له شوروي مشاورینو څخه پېتول. نجیب الله د خاد هغۀ هیئت ته چې مسکو ته د لیدنې لپاره روان وو، خبر داري ورکړې چې په مسکو کې د افغانستان او د ا.خ.ډ. ګوند د وضعیت په هکله د خبرو پر مهال ډېر محتاط اوسي ځکه هغه ودانۍ چې ددوی د استوګنې لپاره په پام کې نیول شوي کیدای شي د استراق سمع په وسایلو سمبال وي.

کارمل، نور احمد نور، محمود بریالی، سلطانعلي کشتمند، اناهیتا راتبزاد او ګل آقا ټول د بد ورګو سختګیرانو په همدې کړۍ کې راتلل. دوی د هغو افغانانو د ترفیع او تقرر خنډ ګرځیدل چې د شوروي اتحاد د عالي تحصیلاتو له بنسټونو او اکاډیمیو څخه فارغ شوي ول. له هغو ۲۷۱ تنو څخه چې په شوروي اتحاد کې ئې عالي تحصیلات بشپړ کړي ول، ۱۷۳ تنو ئې په وسله والو ځواکونو کې کار کاوۀ خو په دوی کې یوازې یو تن چې د یوۀ قول اردو رئیس ارکان وو په لوړ مقام کې کار کاوۀ مګر له بلې خوا په پاڼګوالو هیوادونو کې روزل شوي پوځي پرسونل لا لوړ مقامونه درلودل چې لړ تر لړه د لیوالګانو او فرقو بولندویان ول.

ګل آقا، یو اورپکی او بنسټپاله پرچمی وو. ګل آقا به شوروي مشاورین د خلقیانو د پلویتوب او د ګوند د وحدت د عمومي کړنلارې پرضد فعالیتونو کې په ښکیلوالي تورنول او په دې باور وو چې د خلقیانو او پرچمیانو ترمنځ جوړ جاړی بیخي ناشونی دی. « دوی هماغه خلقیان دي چې د خلکو پرضد ئې جنایات تر سره کړي دي؛ دوی به تر څو خپل ځانونه پټ ساتي، ښه نو، دوی که وغواړي تر یوۀ مهاله به ځانونه پټ کړي، خو هر وخت چې وي دوی هرو مرو به د خپلو جنایاتو سزا وینې. په شوروي اتحاد کې هم خائنین او سرې وژونکي ډېر وروسته محاکمه او محکوم شول؛ په افغانستان کې به هم له خیره سره همداسې کیږي.» کي.جي.بي. او د کي.جي.بي. کابل میشتي څانګې وړاندیز وکړ چې ګل آقا دې د اردو د سیاسي چارو د ریاست له څوکۍ څخه وشړل شي. دواړو څانګو کارمل یو بې کاره او لټ سړی تشخیص کړ چې هر سهار به په نهو بجو له خوبه را پاڅیدۀ او نۀ ئې په کار کې کومې ټینګې هڅې ته لیوالتیا درلودله. کارمل تر یوۀ حده د تره کي په شان وو. وزیران به ئې تر ډېره منتظر کښینول او د کورنیو چارو وزیر به ئې نۀ د کورنیو چارو د وزیر په توګه بلکه د ا.خ.ډ. ګوند د رهبرۍ په منځ کې د وضعیت د یوۀ مخبر په توګه خپل دفتر ته مانۀ. کارمل متردد سړی وو او په خپل نفس ئې اعتماد نۀ درلود، ددۀ همدغه ځانګړتیا ددۀ په څرګند تذبذب، له نورو سره په سست او بې حاله چلند او په آسانه د چا تر اغیزو لاندې راتللو کې له ورایه ښکاریدۀ خو ځان ئې د نړۍ یو ستر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شخصيت ان تر فيډل کاسترو لوړ ګڼلـﺉ. کارمل د سياسي بيرو او د ګوند د کنترول او څار د کميسيون پر غړي دستګير پنجشيري هم اعتماد نــﺉ درلود ځکه د کارمل په باور پنجشيری « لا تراوسه خپل خاص نظريات لري او په ګوند کې د اختلافاتو اساسي سرچينه او منبع همدا سړی دی.» همدا شان کارمل خپل تروزی د ماليي وزير عبدالوکيل له کي.جي.بي. سره د همکاری په پار تر غير مستقيم انتقاد لاندې راوست. د کارمل اخلاقي لمنه هم پاکه نــﺉ وه ځکه چي د سياسي بيرو له غړي اناهيتا راتبزاد سره ئــي د ميني تار او نا وړه جنسي اړيکي لرلې.

ګلابزوی به هره ورځ د هــېـواد د تـېـرو څلورويشتو ساعتو د وضعيت په باب کارمل ته راپور ورکاوﺉ. ګلابزوی د کارمل پر وړاندې د شوروي استازو د چار چلند په هکله حيران وو، ځکه په هغـﺉ ډول چي لازمه وه دوی به ورباندې اعمال نفوذ نــﺉ کاوﺉ او د کارمل په مستدامو شراب څښلو، دائم الخمر اوسـېـدلو او په ګوند کي دﺉ پر کارونو ئـي سترګي پټولې. کارمل نور ګوند او دولت ته يو منفعله او سپک رهبر وو. يوزايني شي ته چي د کارمل ډېره پاملرنه وه دا وه چي څنګه د خلقيانو د مشرانو آبرو توی او عزت ئـي سپک کړي. په هــېــواد کي د وضعيت د ثبات او ټينګښت په هکله ئـي نــﺉ کومه اندېښنه درلودله او نــﺉ تشويش، ځکه چي ددې کار د تر سره کولو مسؤوليت ئــي د شورويانو مسؤوليت ګڼلــﺉ خو په عين حال کې ئــي د شوروي مشاورينو پر کارونو ګوتنيوني هم کولې. ګلابزوی وايي چي يو ځل کارمل ويلي ول :«کارمل د دربار رئـيس دی، نــﺉ جمهور رئـيس او زه «ګلابزوی» د افغانستان ډيموکراتيک جمهوريت د کورنيو چارو وزير نــﺉ بلکه د کابل د کورنيو چارو وزير يم، ځکه چي د هــېــواد ستره برخه د ياغيانو په لاس کې ده.»

د کارمل د نــېـږدې کړی د ملګرو او خپلوانو سياسي ټولنيز ژوند و ژواک هم چنداني تعريف نــﺉ درلود. د مرکزي کميټي منشي او د ا.خ.ډ. ګوند د نړۍ وال دفتر رئـيس محمود بريالی چي د کارمل د پلار د بلي ښځي زوی او ددﺉ ميرې زی وو او د راتلونکي رهبر په توګه ګڼل کـېـدﺉ د کورونو او موټرونو د پلور او پــېــر په سوداګريو کي بوخت وو. نور احمد نور او صالح محمد زيری به هره ورځ د سهار له ٨ تر لسو بجو پورې ناست ول، چايونه به ئــي څښل او خپلي قصي به ئــي کولې، کټ مټ لکه چي په يوﺉ سماوار کي ناست وي. نجيب الله، شاه محمد دوست او صادقي[4] ځانته ډله وه. د ګوند د وحدت په باب ددوی نظريات له نرمښت او انعطافه برخمن ول خو هــېـځکله ئــي د کارمل کومه پرېکړه تر پوښتني لاندې نــﺉ نـيوله. د ا.خ.ډ. ګوند د رهبری په منځ کي خپلوان پالنه [نيپوتيزم] (خويشخوري) او وړيا امتياز ورکول يو ټينګ دود ګرځــېــدلی وو. هغوی د خپلو عياشيو او خوښيو د غوښتنـو د پوره کولو لپاره ددولتي ملکيت له اختلاس او حيف و ميل څخه هــېــڅ دريغ او سپما نــﺉ کوله.

د ١٩٨٢ز. کال د مارچ په مـياشت کي «مرستيال دفاع وزير» سکلوف، «مرستيال ستر درستيز» اخريموف، «د شوروي دفاع وزير» اوستينوف ته راپور ورکړ چي نور احمد نور، محمود بريالی او ګل آقا د کشتمند، نجيب الله او رفيع په ملاتړ د ګوند د ګټو پر ضد فعاليت لري. دغه ډله کسان په خاص ډول خطرناک ول چي د نفوذ او اغــېــز لمنه ئـي مخ په

4 - Sakyki : د مصحح يادښت : ښايي د وزيرانو د شورى رئـيس محمد صادق ياسيني وي ( د ژباړونکي يادونه : دغه نوم په همدې ډول ليکل شوی دی او بايد وويل شي چي د مصحح توضيح په دې هکله ښايي سمه نــﺉ وي ځکه په دغه نامــﺉ څوک د وزيرانو د شورى د رئـيس يا صدراعظم په توګه نــﺉ دي تــېــر شوي.)

پراخـېـدو وه او اکثراً د شوروي مشاورينو مشورې او نظريات به ئــې له پامه غورځول او په ټګۍ او برګي ډک او غير صادقانه چلند ئــې درلود. شوروي پوځي مشاورينو وړانديز وکړ چې دغه ډله کسان دې سوکه سوکه له کليدي مقاماتو لـېرې او له هـېـواده دباندې ولـېـږل شي.

قادر د شوروي پوځيانو او د شوروي د ټولو دولتي ارګانونو له بشپړ ډاډ او اطمينان څخه برخمن وو. د کي.جي.بي کابل مـېـشتي څانګي ورته ډېر درنښت درلود او دی ئي د شوروي اتحاد لپاره يو په اصولو برابر سرښندويه سړی ګڼـهٔ. قادر د خلقيانو او پرچميانو يو بل سره نــهٔ جوړېدل د پرچميانو د ټولنيز موقف پايله ګڼله. اکثريت پرچميان د افغاني ټولني له ممتازو ټولنيزو استرونو څخه راپورته شوي ول حال دا چې خلقيان په عام ډول د ټولني له بې وزلو او زيارګالو خلکو له منځه راغلي ول. قادر په خپله په زندان کي ډېر شکنجه او ځپل شوی وو او د ښي لاس عصب ئــې قطع شوی وو. کارمل د قادر د غښتلي شخصيت په اړخونو ښــهٔ خبر وو خو په زړهٔ کي ئــې ورڅخه کرکه درلوده او باور ئــې ورباندې نــهٔ کاوهٔ. له قادر څخه د کارمل ددغــهٔ ليد لوري په پام کي نيولو سره د کي.جي.بي. کابل مـېـشتي څانګي وړانديز وکړ چې له قادر څخه دې ډېـر کار واخيستل شي. په ۱۹۸۲ز. کال کي شورويانو وکولی شول چې رفيع شوروي اتحاد ته د پوځي روزني په پلمه ولـېـږي او پرځای ئــې قادر نصب کړي. مارشال سکلوف د قادر په هکله دغه راپور مسکو ته ولـېـږهٔ : «سرښندويه عبدالقادر شوروي اتحاد ته پالـياله دئ او د شورويانو له دستور او يا موافقي پرته به هـېـڅ پوځي يا سياسي ګام اوچت نــهٔ کړي. قادر له جنرال سوروکين[5] سره ډېـرې ښې کاري اړيکي لري. زموږ په اند عبدالقادر د افغان رهبرۍ په منځ کي داسي يو رهبردئ چې له ورايه ښــهٔ ليد لوري (دورنما) لري او کـېـدای شي موږ ته ګټور اوسي.» خو نجيب الله په مالي معاملاتو کي د قادر د درغليو، ګوندي ضد ذهنيت او ددهٔ د توطـئــه ګرو نقشو په هکله د معلوماتو په زياتولو دغـهٔ بې عيبه سپارښت ليک ته نوکاره ورکړه او تاوان ئــې ور ورساوهٔ. قادر هڅه کړې وه چې د نظم د بـېـرته راګرځولو په پار ګلابزوی له ځان سره يو ځای کړي او پوځي ګام اوچت کاندي. قادر په دې باور وو چې پوځ دې لومړی د واکمنۍ واګي په لاس کي واخلي او وروسته له دې چې په هـېـواد کي ډيموکراسي ټينګه شوه، واکمني دې د ګوند يوهٔ سالم ځواک ته وسپارل شي دا ځکه چې کارمل نــهٔ وو توانـېـدلی ګوند او هـېـواد ته ثبات او ټينګښت راولي. له بلې خوا قادر، کارمل ته وړانديز وکړ په خپله دې چې د ښي يا د کيڼ لاس اپوزيسيون رامنځته کړي او مشري دې په خپله په لاس کي واخلي ترڅو د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت کي د ډيموکراسۍ يو انځور رامنځته شي او ورپسې دې په خپله «کارمل» هغه اپوزيسيون وځپي چې د همداسي يوې څرګندې حيله ګرۍ په پای کي رامنځته کـېـږي. کارمل، د قادر دا نقشه اوانتوريزم او پرووکاسيون «ماجرا پالنه او پارَونه» وبلله.

[5] -M.I. Sorokin


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

کله چې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند په شپږ ویشتمې کنګرې[6] کې افغان پلاوی د ګډون لپاره د مسکو پر لور خوځېدهٔ، تابییف[7]، کوزولوف[8]، مایوروف[9] او سپولنیکوف[10] ، اندروپوف ته د یوهٔ تیلګرام له لارې دغه غوښتنه ولېږله : « له افغان پلاوي سره د خبرو اترو پر مهال افغانان باید وهڅول شي چې په یوځي عملیاتو او جګړو کې ونډه واخلي نهٔ دا چې د شوروي سرتېرو د فعالیتونو ندارچیان واوسي. شورویان باید د کارمل پام هغو ګڼ شمېر کسانو ته وروآړوي چې په هغو اسلامي ګوندونو او سازمانونو پورې منسوب دي چې انقلاب ته ګواښ رامنځته کوي او په ګوند، د هېواد د وسله وال ځواک په افسرانو، دولتي دستګاه او د پولیسو په لیکو کې ځای پر ځای شوي دي. که افغانان ووايي چې په افغانستان کې شوروي استازو ته د بېلا بېلو مسایلو په هکله سم معلومات نهٔ دي ورکړل شوي نو شوروي رهبران دې په ځواب کې ووايي چې د شوروي استازي د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت په ټولو برخو کې په کار بوخت دي او د ګوند او هېواد په باب دقیق معلومات لري او شوروي لوری د افغانستان د وضعیت په هکله د عینیت پر بنسټ خپل لید لوری لري. که د پرسونل او تقرریو خبره په ځانګړې توګه ډیپلوماتیکو چارو ته د مالیې د وزیر عبدالوکیل د تبدیلی خبره مطرح شي نو په دې حال کې دې شوروي لوری په ځواب کې ووايي چې دغهٔ کار ته اړتیا نهٔ لیدل کېږي ځکه دا موضوع یوازې د وکیل په باب د کارمل د ذهنیګر برداشت په پار په همدغهٔ ډول مطرح شوي وه. شوروي مشرتابهٔ باید وړاندیز وکړي چې اورپکي خلقیان دې د صادقو او راستمنو خلقیانو «چې دوی ته باید ډېره پاملرنه وشي» په مرستي او همکارۍ تجرید شي.

د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند په شپږویشتمې کنګرې کې د تره کي نوم د هغو کمونیستانو په نوملړ کې یاد نهٔ شو چې د دوه وو کنګرو تر منځ مهالیز واټن کې تېر شوي ول. پرچمیانو دا خبره د خلقیانو پر تندي یو لوی ګوزار و بالهٔ او دا ئې «زموږ له نیم کال هڅو او کوښښ سره برابر» یوه مرسته وبلله.

و.س.سفرونچوک، س.م.واسیلوف، ګریکوف، کوزلوف، و.ګ.لومونوسوف، و.ک. فتییف، ا. و. رومانځوف او و. ګ.زَمَریانوف[11] د ا.خ.ډ. ګوند څو تنه ایدئولوژیک سلاکاران ول. د ۱۹۷۸ز. کال د اپریل او د ۱۹۸۲ز. کال د اکتوبر د مېاشتې ترمنځ مهالیز واټن پورې د ګوند د غړو شمېر چې تر ۶۰۰۰۰ پورې رسېدل شل ځله نور زیات شو. له طبقاتي اړخه د ګوند غړو د ټولنې په وړوکي بورژوا پاړکي پورې تړاو درلود او په دوی کې یوازې اتهٔ په سلو کې په سختی په کارګرې پاړکي پورې تړلي ګڼل کېدل. د ګوند او دولت په لوړو ارګانونو، مرکزي کمیټې او انقلابي شورې کې د کارګرې پاړکې هېڅ غړی یا استازی نهٔ لیدل کېدهٔ. په ګوند کې د عددي شمېرې ډېروالی یوازې او یوازې

---

[6] ـ د مصحح یادښت : د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د کمونیست ګوند شپږویشتم کانګرس د ۱۹۸۱ ز.کال د فبروری او مارچ په مېاشتو کې تر سره شو.

[7] -Tabeev,

[8]- Kozlov

[9]- Mayorov

[10]- Spolnikov

[11] -V.S. Safronchuk, S.M. Veselov, Grekov, Kozlov, V.G. Lomonosov, V.K. Fateev, A.V. Romantsov and V.G. Zamaryanov


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د چيکا [کي.جي.بي.] د مواليدو او بچيو يعنې ددولت او د کابل د گوندي سازمان په پار وو چې هر يوۀ ئـــې په وار ۲۸۰۰۰ تـنـه غړي او ۱۱۵۰۰ تـنـه غړي درلودل.

## نور بيا

**د کي.جي.بي تخم او بچيان ....**

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ